The Vaccine Real Talk

# آیا زه د کوویډ-19 د وړیا واکسینو د ترلاسه کولو لپاره آی ډي لرلو ته اړتیا لرم؟

**هرڅوک کولای شي واکسین وکړي. تاسو اړتیا نلرئ چې صحي بیمه ولرئ، د امریکې تبعه یا اوسېدونکی واوسئ.** تاسو د واکسینو د ترلاسه کولو لپاره د ټولنیز امنیت شمېرې ته اړتیا نه لرئ، اما د واکسینو چمتو کوونکی ممکن له تاسو څخه دغه شمېره وغواړي ترڅو دوی ته د واکسینو لګښت بېرته تادیه کړل شي.

که ستاسو خپله د ټولنیز امنیت شمېره په یاد نه وي، یا یې نه لرئ، تاسو کولای شئ د غوښتنې په وخت کې یوازې "نه" ووایاست. د واکسینو چمتو کوونکي ستاسو هېڅ ډول معلومات د مهاجرت یا قانون له نهادونو سره نه شریکوي.

**واکسین د هر چا لپاره وړیا دي.** که تاسو بیمه لرئ، د واکسینو چمتو کوونکی به د واکسینو د تزریق لپاره ستاسو د بیمې په کمپنۍ فیس وضعه کړي، مګر په تاسو هېڅ لګښت نه راځي او نه هم وروسته کوم فیس درباندې وضعه کېږي.

**تاسو باید له خپل ځان سره داسې یو څه راوړئ چې ستاسو نومورباندې لیکل شوي وي** (لکه د عکس آی ډي، د برېښنا بېل، یا د یو چا له خوا لاسلیک شوی لیک چې ستاسو هویت تایید کړي).

د ځینو هغو آی ډي ګانو بېلګې چې تاسو کولای شئ استفاده ځنې وکړئ چې ستاسو نوم ورباندې لیکلی وي:




د بهرني حکومت له خوا درکړل شوې آی ډي




د ښوونځي له خوا درکړل شوې آی ډي




I-94




له تاریخه تېر د ډرېورۍ لایسنس یا پاسپورټ




د بل هېواد د ډرېورۍ د امتیاز کارت




د برېښنا یا ګازو بېل




بل هر ډول سند چې ستاسو نوم ورباندې لیکلی وي




د سرېنا آی ډي